مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوارسنگروال ۲۰۱۹/۰۵/۳۱

# روسیې ته دافغان پلاوي سفر:
# دیوي تني درې سرونه

لکه په ډلیږورسانیپوکي چي څرګنده شوه، دافغانستان او روسي د دیپلوماتیکو اړیکو د سلمي کلیزې د لمانځني په موخه اوپلمه، مسکو د یوي غونډي کوربه وو.

په دغه غونده کي یوشمیرافغان سیاستوالو، طالب استازو، دسولې عالي شورا د افغانستان حکومت او یو شمیر ټولنیزو شخصیتونو ته بلنه ورکړشوي وه.

داخبره دي په خپل ځای وي، چي دهیوادونو او ولسونو ترمینځ دوستي اودښمني ابدي نه وي...ولي کوم څه چي تل به دتنظیمي مشرانو له خوا په دې خبرې تینګارکیده، چي روسانو اودسرو لښکرو لاسپوڅو دوه نیم میلونه افغانان شهیدان کړیدي ...اوس له همدغو کسانو پوښتنه پیدا کیږي، چي د دغو شهیدانو دبوځلي اوبوسي وینې پور به څوک پرې کوي؟

که څه هم دا پوښتنه له هغه چا هم کیږي، چي دشوروي په چړويې دافغانانو سرونه غوځ کړیدي...هو دا پوښتنه له هغو هم کیږي، چي داي، اس، اي لاس پوځي وو او په کورنی جګړو کي په زرګونو انسانانو کندوالي ډکي کړي...

یوه ورځ به راشي، چي ټولنیزعدالت لاسونه به، دهرظالم ګریوان ترلمني پورې څیرې کړي... اوکه دا دیوي خبرې پوښتنه هم ونه شي، نو د تاریخ تیره توره د هر جابر او ظالم په سرو وینو ککړ لاسونه هر چاته په ډاګه کولی شي...

اوکه څوک له دې یوې خبرې هم ویره ونه لري دچښتن تعالی غضب ته دې سترګي په لاره اوسي...

هو په دې هرڅوک پوهیږي، چي دغومشرانوخوددي شهیدانوله کونډو،یتیمانواوبوره شوومورګانوسره کومه خواخوږي ونه ښوده اونه یې هم ددوئ په سردعاطفي لاس تېرکړ...

حامدکرزی، عطامحمد نور، حاجي محمد محقق، اسماعیل خان، حنیف اتمر، زاخیلوال اونورچي د روسي په بلنه هغه هیوادته سفردرلود...ایا د شوروي اتحاد ځای ناستي د روسي هیواد چارواکوته یې وویل، موږ چي اوس ستاسو درګاه ته راغلي یو او له تاسو دسولي سوال کوو، ایا د دې ټولو بدمرغیو یولامل تاسونه یاست؟

ایا تاسو د روسي چارواکو ته داخبره ورغبرګه کړه چي دافغان د بیوځله، بیوسه اوبېکسه ولس دوینې اوجګړې تاوان به څوک ورکوي؟

دا پلاوی اوپه ټوله کي افغان ولس باید په دې پوه شئ، چي روسیه خپلي موخي لري...

لکه څرنګه، چي پاکستان اوایران افغانستان ته ښه نیت نلري، دارنګه له روسیه هم دښه نیت تمه نشي کیدی...

روسیه غواړي، چي دسوري په څېر په افغانستان کي خپل رول اداکړي، که داسي نه وي د کوم منطق له مخي تاسي په روسي باورکولی شئ؟

که څه هم سیاسي قبلې اوړي راوړي او د دې کار پیل لومړی ځل لپاره برهان الدین رباني وکړ، لا د شهیدانو وینې وچې شوې نه وي، چي روسي ته یې سفروکړ اوله هغو سره یې سیاسي اړیکي ټینګي کړی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې په څنګ کې ایا د دې پوښتنې دځواب په لټه کې څوک شته، چې له عطا محمد نور، محقق، اسماعیل خان، حامدکرزي، زاخیلوال، حنیف اتمراو نورو نه وپوښتي، چې تاسو دومره شته له کومه کړل، چې اوس دمیلونو ډالرو خاوندان استئ؟ ایا دا د شهیدانو د وینو برکت وو او که ستاسو دغلاو هنر، چې څوک د دې وس نه لري تاسو له ګریوانه راتینګ کړي؟

دا کلونه کلونه کېږي، چې د جهاد د شهیدانو د کورنۍ غړي دهمدې زورواکو د ماڼیو او بنګلو لاندې هر چاته دسوال لاسونه اوږدي وي اوخیراتونه غواړي.

له کومو ناخوالو سره چې اوس افغان ولس لاس اوګریوان دی ایا ددې ټولو بدمرغیو لامل همدغه هېوادونه (روسیه ،امریکا...) نه وو، چې ببرک کارمل دبرژنف اوحامد کرزي د بوش په ټېرونو د وزیر محمد اکبرخان مډالونه ټومبل...؟

دافغانستان په معاصرتاریخ کې که له یوې خوا د افغانستان د بدمرغو، بدرنګو او بېباکو مشرانو بدګڼې تېروتنې وې، خو له بلې خوا د ښکرورو ښکېلاکګرو هېوادونو شومې غوښتنې هم وې، چې غوښتل یې د خپلو ګټو لپاره هېوادونه په خپل ګوروټ او ولکه کې راولي، چې موږ د ساري په توګه د درې سیاسي څېرو او د درې استعماري هېوادونو لنډه یادونه کوو:

۱. شاه شجاع:

الفسټن به پدې خبرې تل ټینګار کاوه چې په اسیایي هېوادونو کې د بریټانیه مرګ هغه مهال اړین دی، چې په خپلواکه توګه دغه هېوادونه د حکومت کولو وړتیا ولري. ښایي د ده د خبرو موخه به دا وه چې دغه هېوادونه له سیاسي او اقتصادي پلوه وروسته پاتې دي، نالوستي دي، پخپلو کې یووالی نه لري. نوځکه خو د حکومت کولو جوګه نه دي. ولې نوموړي دېته پام نکوه چې د دغو هېوادونو د وروسته پاتې والي یو لامل هم د یرغلګرو بریدونه ول او کنه د نړۍ هر هېواد د خپل پیداینت نه را پدې خوا د پرمختګ بېلابېل پړاوونه وهلي دي. د برېتانیې چارواکي هم پدې اند لومړی د هند نیمي وچې او بیا افغانستان ته را ننوتل.

کله چې شاه شجاع او برېتانوي پوځونه اوځواکونه د اګست په ۷ نېټه (۱۸۳۹ زکال) کابل ته را ورسېدل، ډېره موده لا نه وه تېره چې انګرېزانو ورورو خپل ځان دېته چمتو کاوه چې شاه شجاع تش په نوم پاچا وي او د ملک چارې د دوی لخوا سمبال شي.

مکناټن که له یوې خوا په کابل کې د برېتانیا سفیر وه خو له بلې خوا یې د هېواد صدارتي چارې پر مخ وړلې او ان د شاه شجاع د نایب السلطنه په توګه کار کاوه. د دوی ځواکونه په لومړي سر کې د بالاحصار شاوخوا کې ځای په ځای ول. وروسته کومې کلاوې او د کابل مهم ځایونه چې ځانګړی جغرافیوي جوړښت یې درلود، یو د بل پسې لاندې کړل او بیایې خپل ځواکمن ټولګي هلته ځای په ځای کړل. هغه مهال د کابل جغرافیه داسې وه چې د کابل د سیند دواړو غاړو ته د ځمکو د خړوبولو لپاره لویې لویې ویالې ایستل شوې وې او هم برجوري کلاوې ابادې وې چې موږ د محمود خان کلا، جعفر کلا، شریف خان کلا، ذلفقار خان کلا او نوري یادولی شو. انګرېزانو له یوې خوا دغه کلاوې څارلې او له بلې خوا یې په بي بي مهرو پر سیمه، شېر پور، سیاه سنګ او نورې کومې سیمې چې جنګي ارزښت یې د جغرافیوي جوړښت له مخې د پام وړ وه هلته یې هم خپل ځواکونه ځېره کړل.

د کابل نه پرته له کندهار نه راواخله تر غزنې، بامیان او ان ننګرهار پورې خپل پوځونه چې په سپکو او درنو وسلو سمبال وه ځای پر ځای کړل.

شاه شجاع چې خپل ځان ډېر بېوځله بېوسه او بېکسه ولید پدې پوه شو چې د افغانستان رښتنې واک له انګرېزانو سره دی. له مکناټن یې وغوښتل چې دادې زه واک ته ورسېدم تاسو باید له افغانستان نه ووځئ. مکناټن په وار وار دغه خبره غبرګوله که چېرې موږ ووځو امیر دوست محمد خان، نواب محمد زمان خان او سردار محمد عثمان خان او د هغه پلویان د تاسو په وړاندې دریږي او تاسو له مینځه وړي.

یوه ورځ برنس د مکناټن په سپارښتنه شاه شجاع ته وویل عبدالله خان اڅکزی او امین الله خان لوګری د تا واک ته یو ګواښ دی. دوی را وغواړه چې هندوستان ته یې واستوو. کله چې شاه شجاع دوی راوغوښتل او د برېتانوي چارواکو پیغام یې ورته ورسوه، نو هغوی ورته وویل: موږ انګرېزان یرغلګر بولو. تاسو چې واک ته رسېدلي یی دا زموږ برکت دی خو اوس چې موږ ګورو ته اوس هېڅ واک او ځواک نلرې. شاه شجاع په ډېرې خواشینی خپلې ستونزې له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

امین الله خان لوګري او عبدالله خان اڅکزي سره شریکي کړي.

د جنرال سیل مېرمن هم دې ټکي ته اشاره کړي ده چې. د انګرېزانو په وړاندې چې کوم پاڅون (۱۸۴۱ ز کال) د اکتوبر په میاشت کې وشو ډېر لیکونه ترلاسه شول چې شاه شجاع خلک پاڅون او جهاد ته را بللي دي.

فریزر تتلر بیا انګېري چې د دې پاڅون یو لامل داوو چې:

«بریټانویانو خپلې سرلوڅې ښځې او د کورنۍ نور غړي له هند نه کابل ته را وبلل. هغه افغان وګړي چې د پېښو ننداره يې کوله پوه شول چې وطن يې نیول شوی دی نو دېته وهڅېدل چې لاس په کار شي. نو ځکه د شاه شجاع او د هغه د نابللو دوستانو په وړاندې ودرېدل.»[1]

---

[1] تتلر فریزر افغانستان د چاپ کال ۱۹۵۰ لندن ۱۱۴ – ۱۱۳ مخونه.

۲. ببرک کارمل:
بوریس ګروموف د شوروي اتحاد د یرغل په تړاو کښلي دي چې:

«د شوروي اتحاد پوځي برید په سبا ببرک کارمل د شوروي تاجکستان له پلازمېنې دوشنبې نه د بګرام هوايي ډګر ته په الوتکه کې ولېږدول شو.»[1]
الکساندر لیا خفسکي د کارمل په اړه کاږلي دي چې:

«ببرک کارمل د بګرام په هوايي ډګر کې د شوروي اتحاد د کماندو په حفاظت کې وه.»[1]
دی نه یوازې په بګرام کې د شوروي ځواکونو لخوا ساتل کېده بلکې د کابل په ارګ کې هم د شوروي پوځونو په مېنځ کې وه، چې له اشپزانو نیولې تر ساتونکو ټول يې شوروي سرتېري ول.

ببرک کارمل د شورویانو په پېرزوینې او لورېنې ځان په داسې یوه چاپېریال کې وموند چې د خیالي سوسیالستي ټولنې په خوب کې هم تصور نه کېده. ولې دی په دې نه پوهېده چې د افغان ولس له غبرګون سره به مخ کېږي او ده ته شوروي اتحاد دومره ځواکمن برېښېده چې ګڼي ټوله نړۍ د شوروي په ولکه کې ده.

د شوروي اتحاد یرغل نه یوازې د افغان ولس له سخت غبرګون سره مخ شو، بلکې نړیوال غبرګون يې هم را وپاراوه. پدغه نړیوال غبرګون کې یو شمېر "سوسیالستي" هېوادونه هم ول چې د شوروي وسلوال برید يې وغانده چې موږ په دغه لړ کې چین، یوګوسلاویا، رومانیا او آن کیوبا د ساري په توګه یادولی شو.

په کابل کې د امریکا سفارت د شوروي یرغل په تړاو د امریکا متحده ایالاتو چارواکو ته خبر ورکړ. د جیمي کارتر د ملي امنیت سلاکار زبیګنیوبریژنسکي چې کله خبر شو نو په ځغرده يې وویل:

شوروي اتحاد، دا ځل خپلې پښې له شړۍ نه اوږدې کړې. دوی په دې پوهېږي چې د دغه یرغل موخه د شوروي پلوي حکومت ټینګښت دی، چې داسې یوه ستر، ولې له ستونزو ډک یرغل ته يې لاره هواره کړه.

د امریکا متحده ایالات چې د کې – جي – بي له استخباراتي هلو ځلو نه په وېره کې وه، پدې يې خپله خواشیني وښوده چې په افغانستان به د هنګري (۱۹۵۶ ز کال) په څېر ورځ راشي او یا به د چیکیانو په څېر (۱۹۶۸ کال) داسې وځپل شي چې نور به د سر جګېدو نه وي.

ځکه نو تاریخپوهان انګېري چې په افغانستان د شوروي پوځونو یرغل چکوسلواکیا ته ورته دی.
د چکوسلواکیا ولسمشر الکساندر دوبچک (۱۹۶۸) د پراګ د پسرلي په نوم د سیاسي رغاوني غږ پورته کړ. ولې شورویانو دېته د ناسیونالیزم یو خوځښت ووایه نو بیا يې د پراګ پسرلی په خزان واړوه.

بریژنسکي له دې سربېره بیا دې ته خوشاله وه چې له شوروي اتحاد به اوس د ویتنام غچ او کسات اخلي کوم چې د امریکا پر ضد مسکو له ویتنام ولس سره مرسته کړې وه. نوموړي په سر کې هماغه تېره تګلاره وڅارله چې په پټه به يې، په پاکستان کې له افغان کډوالو سره مرسته کوله. خو د کارتر پرېکړه هغه مهال برالا او بر ملا شوه چې په ۱۹۸۰ کال، په مسکو کې د المپیک لوبې تحریم کړې.
دا په اقتصادي او سیاسي لحاظ یو لوی ګذار وه چې شوروي اتحاد يې ګوښه والي ته ټېل وهه.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دَ«هارسیون» په اند نور کارتر دغه اندېښنه نه لرله چي د افغانستان مجاهدینو سره دي په پټه د وسلو او پیسو مرسته وکړي، بلکي بې درېغه يي خپلو هر اړخیزه مرستو ته زور ورکړ.

«د امریکا او عربستان مرستي تر ۱۹۹۱ کال پوري له «۲.۸» ملیاردو ډالرو نه زیاتي وې.»[1]
د دغو مرستو په لړ کي، یوازې په لومړنیو (۱۹۸۰ – ۸۱) دوه کلونو کي د پاکستان حکومت له امریکي نه د پوځ لپاره (۱.۵) ملیارده ډالره وغوښتل.

امریکا او متحدینو یي د شوروي پر وړاندي هر اړخیزي هڅي پیل کړي. اسلامي هېوادونو په سر کي سعودي عربستان هم پټه خوله کېناست، چینیانو هم خپل غبرګون په ډاګه کړ. په ټوله کي، د شوروي اتحاد پر وړاندي د امریکا او د هغه د متحدینو دغه اندېښنه موجوده وه چي کمونیزم په نړۍ، په تېره وروسته پاتي ټولنو په ځانګړي ډول په اسیايي، افریقايي او ان په لاتیني امریکايي هېوادونو کي د پراختیا او پرمختیا پړاوونه وهي.

ستیو کول په خپل کتاب کي لیکلي دي چي:

«واشنګټن په شوروي ضد تبه اخته شو چي په پای کي د امریکا او پاکستان تر مینځ د نږدې همکاریو یو نوی پړاو را مینځته شو. چي دواړه به د خیبر غاښي پر هغه خوا شوروي ته چلېنج ورکړي، لکه څنګه چي یوه پېړۍ د مخه برېتانویانو پر همدې ډګر باندي تزاري روسي ته چلېنج ورکړی وه.»[1]

د ایران د پاچا محمد رضا، چي پنځوس کاله په سیمه کي د امریکي د سیاست څرې وه، له ماتي وروسته، امریکا په دي(۱۹۷۹ کال) پوه شوه چي د اسیا په دغه سیمه کي د استخباراتو یو مهم مرکز له لاسه ورکړ، غوره يي وګڼله چي پاکستان د ایران ځای ناستی شي.

د ذولفقار علي بوټو له مرګ نه وروسته، د ضیاوالحق د واک په مهال د **C.I.A** او آی – اس – آی ترمینځ اړیکي دومره پراخي شوي چي د تهران تشه يي ډکه کړه.

د امریکا متحده ایالاتو هغسي هم «۱۹» نولس هېوادونو ته یاني د اسیا جنوب لوېدیځ او د امریکا ښاخ ته بېلابېل پلاوي ولېږل چي د شوروي د پرمختګ لاره ډب کړه. خو د امریکا نیکمرغي هغه وه چي شوروي اتحاد په افغانستان وسلوال یرغل وکړ، او دغه یرغل د پاکستان او ایران لپاره هم یو ستر ګواښ وه. ولي پاکستاني چارواکي په سر کي ضیاوالحق په دې اند وه چي د شوروي د برید ګواښ داسي انځور کړي چي ګني د سرو لښکرو یرغل تر ډېره بریده د امریکا د متحده ایالاتو کټي ګواښي، نو باید له پاکستان سره مرسته وشي.

په پاکستان کي د امریکا د **C.I.A** استازي «جان جي ریګان» (۱۹۷۷ – ۱۹۸۱ کال) د اسلام آباد د غوښتني په تړاو وایي:

«په دي هکله دا وړاندوینه کېده چي پاکستان د بریژنسکي د څلور سوه (۴۰۰) میلیونو ډالرو د مرستي وړاندیز و نه مانه.»[1]
دا ځکه چي ضیاء ته څرګنده وه چي دغه جګړه امریکي ته ډېره مهمه ده. همدا لامل وه چي د امریکا متحده ایالاتو چارواکو ته يي په څرګنده وویل:
دغه مرسته د پاکستان لپاره داسي ده لکه په سمندر کي یو څاڅکی. له دي نه وروسته، ۱ ملیارده ډالر زمزمه کېدل خو «ضیاالحق هغي مرستي ته ګوته ونیوه چي د امریکا کنګرې د مصر هېواد لپاره (۳) ملیارده ډالره په پام کي نیولي ول، ده په ډاګه وویل: پاکستان ځان د دي مستحق ګڼي. که چېرې له کوم ګواښ سره مخ شي له دي زیات د مرستي تمه لري.»[1]

امریکا د شوروي پر وړاندي غبرګون کي یوازې نه وه بلکي د ده متحدین، د ساري په توګه د برتانیا هېواد د خپل بهرنیو چارو وزیر په «۱۵» نېټه (۱۹۸۰ کال) ترکي، سعودي عربستان، اردن او پاکستان ته سفرونه وکړل.
له یوې خوا يي د ګډ دښمن (شوروي اتحاد) پر وړاندي د دوی په سیاسي او اقتصادي مرستو غږ وکړ او له بلي خوا يي د هغو افغان کډوالو کمپونه (پنډغالي) هم ولیدل چي د شوروي پوځونو د برید له امله پاکستان ته کډه شوي ول. له دي نه یوه اونۍ وروسته د جنورۍ په (۲۱) نېټي اسلامي هېوادونو یوه بېړنۍ غونډه را وبلله او په پای کي د کارمل او شوروي پر ضد د جهاد اعلان وکړ.

شوروي اتحاد چي د یو سلو شل زرو (۱۲۰۰۰۰) په شاو خوا کي، خپل ځواکونه په افغانستان کي ځای پر ځای کړل،


افغان جرمن آنلاین په درنښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

که څه هم سلاکارانو یې په ملکي او پوځي چارو بشپړ واک درلود ولې بیا هم د افغان ولس له سخت غبرګون سره مخ شول.

که د تره کي او حفیظ الله امین د واک په مهال د کورو کلي یو خان او دیني عالم د شپې په تیاره کې له مینځه وړل کېده خو د کارمل او د شورویانو د قدرت په وخت کې ټول هغه کلي د روسانو د بمبارۍ له کبله له مینځه لاړل ان د کلو جغرافیه یې هم په بل مخ واړوله.

د کارمل د حکومت چاروکي د شوروي اتحاد په سیاسي غلامۍ کې شکېل ول. یو شمېر چارواکي دومره د سویتیزم په پلوی رورېدي شول چې د افغانستان د ملي هویت پر ځای یې انترناسولیزم غوره ګاڼه.

هغه د ببرک کارمل مشهوره خبره ده چې په خپله ژبه به یې په ډېر ویاړ دغه خبره کوله چې:

«معیارِ وطنپرستي در سویتیزم است.»

مانا دا چې هغه افغان رښتینی «وطنپرست» دی چې شوروي پرسته وي.

د شوروي اتحاد د ځمکنیو او هوایي بریدونو پر وړاندې د افغانستان د خلکو ملي پاڅونونه او نړیوال غبرګونونه تر دې بریده ورسېدل چې په پای کې د جنوري په (۷) نېټې د ملګرو ملتو د امنیت شورا دیارلسو (۱۳) غړو غونډه وکړه، له شوروي اتحاد او ختیځ المان نه پرته د نورو هېوادونو استازو په ټینګه له شوروي نه وغوښتل چې خپل پوځونه له افغانستان نه وباسي.

د جنورۍ په ۱۴ څوارلسمي نیټې د ملګرو ملتو عمومي غونډې د ۱۸۰ څخه ۱۰۴ تنو د رایو په اکثریت پرېکړه وکړه چې شوروي اتحاد باید ډېر ژر خپل ځواکونه له افغانستان نه بېرون کړي.

افغان ولس له یوې خوا د شوروي اتحاد د بریدونو او له بلې خوا نړیوالو غبرګونونو دېته اړ کړ چې له هېواد نه کډه شي. هغه وه چې یوازې په پاکستان او ایران کې د پنځه ملیونو په شاوخوا کې افغان کډوال دېره شول، د وسلو او پیسو له لارې د نړۍ ډېرو هېوادونو د مرستې ټټر وواهه چې موږ امریکا، د لوېدیځې اروپا هېوادونه، چین او جاپان، عربستان، مصر، ترکې، د خلیج یو شمېر هېوادونه د بېلګې په توګه یادولی شو.

له یوې خوا، یادې نړیوالې مرستې وې او له بلې خوا د افغان چاروکو تېروتنې، چې په پای کې د ببرک کارمل واکمني یې وګواښله.

۳. حامد کرزی:

کله چې د امریکا ولسمشر بوش، په افغانستان د برید اعلان وکړ، او د اکتوبر په اومه (۷) نېټه د معجزو وطن، افغانستان یوه بله معجزه وزیږوله، د بوش د اعلان نه دېرش (۳۰) دقیقې وروسته د برېتاني صدراعظم توني بلېر او ورپسې لوېدیځوالو د امریکا د تیري نه ملاتړ څرګند کړ.

طالب چاروکو داسي انګېرله چې اسلامي نړۍ او په سر کې پاکستان به د دوی نه ملاتړ وکړي، ځکه چې د دوی اداره یې په رسمیت پېژندلې وه. ولي پاکستان نه یوازې ملاتړ تري و نه کړ، بلکې د پاکستان ځمکه، هوایي ډګرونه، د هند د سمندرګي د یګوسیا ټاپو، او په ټوله کې د پاکستان له هوایي فضا نه، د طالبانو د ځپلو لپاره استفاده وشوه.

د افغانستان قاتلینو ضیاءالحق، حمید ګل، نصیر الله بابر، جنرال پرویز مشرف، نواز شریف، بې نظیر بوټو او د پاکستان ګڼو چاروکو ځو لسیزې دغه هېواد په سرو وینو ولمبوه.

د ګاونډیو هېوادونو په لړ کې د ازبکستان خاوره هم د امریکایي ځواکونو لخوا وکارول شوه.

برید ګرو له یوې خوا له هوا نه د ۵۲ الوتکو لخوا داسې بمونه وغورځول چې ان د ځمکې له تل نه یې اوبه ایستلې او له بلې خوا یې د الوتکو په وسیله خوراکي توکي هم غورځول.

د امریکا هوایي ځواک د اکتوبر له اومې نېټې نه چې کوم بریدونه پیل کړي ول تر اولسمې (۱۷) نېټې پورې سلګونه ملکي افغانان ووژل، چې د یوې شمېرنې له مخې تر دغه دمه د وژل شوو شمېر ۳۴۷ تنو ته رسېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

---

په ۱۳۸۰ لېږدیز کال د تلې (مېزان) په پنځه ویشتمه (۲۵) نېټه چې د ۲۰۰۱ زېږدیز کال د اکتوبر له ۱۷ نېټې سره برابره وه امریکا او دهغوی متحدینو د هېواد په شمال کې هوایي بمباریو ته زور ورکړ چې له یوې خوا طالب ځواکونه وځپي او له بلې خوا د شمالي ټلوالې وسلوال ځای پر ځای کړي. همدا لامل وه چې د اکتوبر په ۱۸ نېټه چې د طالبانو په وړاندې توده جګړه روانه وه، د شمالي ټلوالې جنګيالي د مزار شریف شاوخوا ته ورسېدل.

د مېزان په ۲۹ نېټې (۱۳۸۰ کال) چې د اکتوبر له ۲۱ مې نېټې (۲۰۰۱ ز کال) سره برابره وه امریکایي ځواکونو د هېواد په شمال، شمال ختیز، د باګرام هوایي ډګر، دره یوسف تر اور لاندې ونیوه او ورو رو یې د شمالي ټلوالې وسلوال ځای پر ځای کړل.

د امریکا د بریدونو له کبله چې هره ورځ په لسګونو غیر پوځي افغانان وژل کېدل، یوازې د اکتوبر په ۲۱ نېټه د یوه برید له کبله چې یو بم د هرات ولایت په یوه روغتون وغورځېد او له بابته یې د سلو تنو په شاوخوا کې کسان ووژل شول، د بېلګې په توګه یادولی شو.

 پداسې حال کې چې د امریکا تر مشرۍ لاندې له یوې خوا نړیوالې ټلوالې او له بلې خوا شمالي ټلوالې او هم نورو خواوو د خپلو ګټو د خوندي کولو هڅې کولې.

دا د افغانستان د کړکېچ یو بل پړاو وه چې سیاسي او پوځي ستونزو ته یې لاره پرانسته، او د افغانستان ګاونډیان یې چاغ کړل، چې موږ په دې لړ کې پاکستان د ساري په توګه یادوو.

د افغانستان په معاصرتاریخ کې دغه درې واړه پېرونه، بریدونه اوګوابنونه چې په کومې نېټې او ورځې رامینځته شول دافغانستان په تاریخ کې یوه توره ورځ ګڼلی شو، چې، شاه شجاع د انګرېزانو برید ته لاره اواره کړه...، ببرک کارمل افغانستان د سره ښکیلاک دګوزارنښه کړ... او حامد کرزی دامریکا په ملاتړافغانستان کې دواک اوځواک څښتن شو، زورواکي یې دوسلو اوپېسوخاوندان کړل، افغانستان یې پرې چورکړاونړیوالې مرستې دځوتنوپه واک اوخوراک کې ورکړې... که چېرې ده دیوه سم مدیریت پربنسټ دهېواد درغاونې رښتنی هوډکړی وی اوس به موږ دامرېکې په یرغمل کې ښکېل نه وو...پوځ به موېخپله روزلی اوپاللی شو...

اوس به نو د افغانستان خلک کله هم هغه د تاریخ بد رنګې ښېرې، چې دغه هېواد یې د بربادۍ کندې ته غورځولی ونه ښني.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ